NDI
NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# په افغانستان کښی د ټاکنو وروستنی معلومات

دلا ډیرو معلوماتو لپاره
اندي- ام - اې کمپبل- د افغانستان د دفتر رییس
۰۷۹۸۱۳۷۰۲۳
acampbell@ndi.org

**د افغانستان د ولسی جرگی ټاکنی، ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۰ — د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر شپږمه- له ټاکنوڅخه ۱۸ ورځې وروسته**

ملی دیموکراتیک انستیتوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرگی د ټاکنو له بهیر څخه د نظارت په موخه څارنیز ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیرونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح گمارل شوی دی. د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پانی کتلای شی . AfghanistanElectionData.org

## دټاکنودشکایاتو اړوند فیصلی په څرگنده ډول خپری نه شوی

**د جزی پایلو او شکایاتو په اړه وروستی معلومات**

- د ۳۴ څخه د ۲۵ ولایاتو جزی پایلی اعلان شوی، د کندهار، غزنی او پکتیا په اړه معلومات نه دی خپاره شوی.
- داسی انگیرل کیده چی لمړنی پایلی به د اکتوبر په ۹ اعلانیږی ، خود اکتوبر ۱۷ ته وځنډیدی.
- دشکایاتو کمیسون د ۳۸۰۰ شکایتونو د رسیدو راپور ورکوی ، چی د نیمایی څخه زیات به یی د رای په شمیر اغیزه ولری
- اوازی دی چی د ټاکنو د خپلواک کمیسون د خوست مسول د درغلۍ په تور نیول شوی دی

د ټاکنو د شکایاتوکمیسون د قانون مطابق ولایتی دفترونه دی ته اړ وول ترڅود هغوی شوی فیصلی په عامه توگه د خلکو محضر کی وړاند کړی خو دوی په دی کی ناکام راغلل، داسی ښکاری چی ولایتی دفترونو د شکایاتو د کمیسون څخه په دی اړوند دقیق معلومات ندی اخیستی.

د شمیرنی او رای ورکوونی په اړوند د شکایاتو د کمیسون کړنلاره داسی ده چی باید شوی فیصلی په ښکاره او بهرددفتر څخه د ۵ ورځو د پاره وځړول شی.د ټاکنو د ورځی راهیسی د ان ډی آی د څار مامورین د مختلوفو ولایتی دفترونوڅخه لیدنه کوی او بیا چارواکو ته معلومات ورکوی چی ایا هغه شوی فیصلی په څرگنده توگه خپری شوی او کنه، د ۱۸ ټاکل شویو ولایتی دفترونو څخه یواځی د پکتیکا ولایتی دفتر د بهر دیوالونو څخه استفاده کړی وه. په پدی ورستویو کی ددی سره چی د پکتیکا ولایت د۳۱ ښځینه مرکزونه رای باطلی شوی خو د پکتیکا د شکایاتو دفتر ددی موضع په څرگنده ډول اعلانولو څخه ډډه کړی ( ترڅو کوم څوک مشخص نه شی)

دوه ولایتونو ( پروان او کاپیسا ) ددی غوښتنه کړی چی باید هغه شوی فیصلی دی په دخلی دروازه او ددفترد امنیتی غرفو په دننه دیوالونو وځړول شی.د کابل ولایت په شمول ۱۵ نورو د شکایاتو ولایتی دفترونو دغه فیصلی نه دی ځړولی

## د آن دی آی د ساحوی څارنی په اړه مهم ټکی

### د کندهار ولایت

د نړی زیادترو رسنیو د افغانستان د ټاکنو په اړوند په قندهار کښی د درغلیو په اړه زیات تاکید کړی. سره ددی چی کندهارد بی نظمیو په اړوند د هیواد په کچه مطرح شوی خو ځینی نور لاملونه شته چی کندهار ولایت یی د توجو وړگرځولی دی: د اد طالبانود روحانی ځیږندی ټاتوبی دی، د نظامی نا امنیو مهم مرکز دی، د رییس جمهور کرزی او د هغه د وروراحمد ولی چی د ولایتی شورا رییس دی ځیږنځای دی، او تر ټولو ستره دا چی د پراخه درغلیو مرکز په تیرو ولسمشرۍ او د ولایتی ټاکنو په بهیر کی بلل شوی دی.

په ۲۰۰۹ کال کی په کندهار،پکتیکا او غزنی کښی د بی نظمیو د څیړنو په بهیر کښی د شکایاتو کمیسون د ټاکنوخپلواک کمیسون ته حکم وکړ ترڅو په ملی کچه د ولسمشرۍ دټاکنو د مشکوکو صندقونو په اړه څیړنه وکړی. چارواکو د هغو صندقونو څیړنی وکړی کومو کښی ]چی گډوډۍ موجودی وی ، په پایلی کی دغو چارواکو ۱.۳ میلونه رای باطلي اعلان کړی چی تقریبا ۱ میلیون یی د کرزی په نفع استعمال شوی وی.

سږ کال هم ناظرین د ۲۰۰۹ کال په څیرد مهموگډوډیو شاهدان وو چی ورته توجه نه وه شوی. د ټاکنو د ورځی راهیسی د شکایاتو کمیسون ۱۰۹ شکایات ترلاسه کړی چی د نیمای څخه زیات یی د رای دشمیرپه پایلو اغیزه درلودی شی .

ددی څخه ۹۲ یی داسی شکایتونه دی چی رای وروکوونکی د رای د مرکزونو څخه منع شوی دی .او ځینی مراکز پداسی ځاینو کښی خلاص شوی ووی چی کمیسون د هغی اعلان نه وو کړی او غیر قانونی بڼه یی درلوده.

او په ځینو نورو مواردو کی د رای مراکزد مسلح گروپونو په واسطه تړل شوی او خلک یی د ننوتو منع کړی او صندوقونه یی خپله ډک کړی دی.

*پاتی برخه دوهمه پاڼه*

### د نیمروز ولایت

نیمروز چی یو سویلی ولایت دی لمړنی پایلی یی د ښځو د گډون غښتلی ښکارندوینه کوی، د دریو ښځینه نوماندوڅخه چی یوه یی په دوهم مقام او بله یی په څلورم مقام کی ځای لری راپور ورکوی.

۱۱ نوماند ددی ولایت څخه د ولسی جرگی ۲ سیټونو ته سیالی کوی چی یوسیټ یی ښځینه استازوته جلا شوی دی.

د ټاکنو د خپلواک کمیسون د لمړنی پایلی مطابق ښځینه او نارینه نوماندان چی سره سیالی کوی، په شپږو مرکزونو کښی یو شان رای اخیستی ، او ددغه جزی رای شمیرنی مطابق ددی امکان شته چی دواړه سیټونه ښځینه نوماندو ته ورکړل شی. چی دا به په افغانستان کی یو بی ساری بڼه ولری.

ښځینه او نارینه کاندیدان اساس په یو شان روان دی، ښځینه نوماندانی چی زیاتی رای لری یو یی فریده حمیدی، چی د ښځو د چارو مسوله په دی ولایت کښی وه او بله یی فرشته امینی ده. او نارینه نوماندان : احمد بلوڅ: چی یوه پیژندل شوی څیره ده او د بلوڅو د فرهنگی او ټولنیزوچارود مرکز رییس دی ، او بل یی سرور شیرزاد دی چی پخوانی ولسوال دی.

نیمروز ولایت جغرافیاوی ، د وگړو د عمر او عاید او کلتوری ځانگړتیاوو په درلودلو سره د گاونډیو ولایاتو څخه توپیر لری.د نورو سویلی ولایاتو په خلاف چی پښتانه اکثریت دی، په دی ولایت کی د بلوڅو زیات شمیر وگړی ژوند کوی. د ایران سره د شریک سرحد په درلودو پدی ولایت کښی د ایران نفوذ تر ډیره غزول شوی دی.

♦ Washington, DC 20036-3306تن M St. NW, Fifth Floor 2030 ♦ په نړیوالو چارو کې ملی دموکراتیک انستیتوت
www.NDI.org ♦ 202.728.5520 : فکس ♦ 202.728.5500 :تلفن

## دشکایاتو د کمیسون فیصلی( د لمړی پاڼی په دوام)

د بامیان ولایت اړونده دفتر داسی وایی چی دوی داسی کوم پلان نه لری خو داسی یی ویلی چی دا فیصلی به د رادیو دلاری خپروی. د پکتیا اوکندوز ولایتونه وایی چی مونږ د شکایتو کمیسون هدایت ته په طمه وو چی څه وخت او څنګه دغه فیصلی خپری کړو.

د شکایاتو د کمیسون د قانون مطابق دا کمیسون دی ته اړدی ترڅو دا تصامیم خپاره کړی ، خو دوی پکښی پاتی راغلی دی. هغه فیصلی چی د ټاکنو د شکایاتو څخه باید مخکښی خپری شوی وای، یوه اونۍ وروسته د ټاکنود ورځی خپری شوی.

او هغه معلومات چی خپاره شوی وو په هغی کی څیړل شوی شکایت نه وو.

د کابل د شکایاتو ولایتی دفتر د( نی ډی ای) د څار ډلی ته داسی ویلی دی چی ددی فیصلو څرول یو بی فایدی عمل دی ځکه چی د کابل زیات شمیر خلک بیسواده دی. او د ځینیو ولایتونه لکه بلخ او خوست دفیصلود نه څرولو دلایل یی د امنیت په اړوند اند یښنی وی ، د خوست ولایتی دفتر داسی وایی چی زیات شمیر نوماند او ناظرین به د څیړنو او اعتراضونو په کولوزمونږ کارونو ته لا خنډ شی، او د بلخ ولایتی دفترداسی وایی چی دوی ته د مرکزی دفتر څخه اجازه نشته او داسی ورته ویل شوی چی د هری پایلی پانی پټي او محرمی وساتل شی.

ددی سره چی دا اجازه ورکړل شویده، د شمالی ولایتونو کمشنر وایی چی هیڅ شمالی ولایت به داسی عمل ترسره نکړی.

## د غزنی او بامیانو د کاندیدانو شکایتونه د رای د مرکزونو په ټاکنو کښی

هغه ډلی چی په غزنی ولایت کی سیالی کوی ،ښایی چی د امنیتی شرایطو د پایلیو د د وجهی به په مساوی ډول د رای شمیرنی مراکزو ته لاس رسی ولری.

ناور، چی هزاره میشته پر امنه سیمه ده د ۷ ٪ خلاصو مراکزو څخه چی په ۲۰۰۹ کال کی یی درلودل په ۲۰۱۰کال یی ٪۱۰ ته دغه سهمیه ورسوله.

د پښتنو ځینوپرامنه سیموو هم ګته وکړه ـــلکه اجیرستان چی خپله ونډه یی د ٪۴ څخه چی په ۲۰۰۹ کال کی درلوده ٪۸ ته په ۲۰۱۰ کال کی ورسوله.

د رای پاڼو دنشتوالی راپورونه هم د هزاره جاتو سیمو، غزنی او ارزګان ولایاتو څخه تر لاسه شوی. چی غزنی ولایت د دوه ولسوالیو په مرکزونو کښی دا مسله ددی لامل شوه ترڅو د ټاکنو د خپلواک کمیسون ددفتر تر مخه خلک په مظاهرو لاس پوری کړی. چی وروسته ددی دټاکنو کمیسون موقتی د رای مرکز خلاص کړ چی د نیم ساعت څخه یی زیات دوام ونکړ حال دا چی د یوساعت تمدیدو حق لری.

.

## د کندهار ولایت ( د لمړی پاڼی په دوام)

په ۲۰۰۹ کال کی هم څیړونکی د ورته پیښو شاهدان وو.

دیو نوماند پلویانود بی نظمیو ویدیوی ثبت کړی. وروسته ددی چی دا ویدیو د شکایاتو کمیسون ته وسپارل شوه د الجزیری تلویزن او ځینی نورو ګروپونو لکه این ډی ای سره شریکه شوی ده.

په دی ویدیو کښی ښکاری چی یو مسلح تن د صندقونو ډکول څاری. قومندان عبدالرزاق د سرحدی لیوا قومندان د خپلو کسانو شتون ردوی او هغه خلک تورن ګڼی چی دا ویدیو یی جوړه کړی اودپولیسو جامی یی په تن دی.

د اکتوبر په مه۴ د کندهار د شکایاتو ولایتی دفتر ویلی دی چی تر اوسه یی د سپین بولدک د شکایاتو څیړنی نه دی پیل کړی.



*دغه ویدیو په سپین بولدک کښی د غیر قانونی صندوق ډکول ښیی*

د غزنی او بامیانو ولایت چی زیات شمیر وګړی یی هزاره دی، د شکایاتو کمیسون ته د رای د مراکزو د کمیدو په اړه خپل شکایات ورکړی.

هغه شکایت چی د ټاکنو خپلواک کمیسون څخه د مراکزو د کمیدو اړوند شوی وو د وحدت اسلامی مردمی ګوند لخوا د این دی ای ناظرینو ته هم ورکړل شو.

ددی ګوند چارواکی ادعا کوی چی دا دهغو هڅو یوه بیلګه ده چی غواړی هزاره وګړی ددی حق څخه محروم کړی. د ټاکنو خپلواک کمیسون بیادغه ادعا ردوی او وایی چی د امنیت د نشتوالی او د وګړو د شمیرله چی په کال ۲۰۰۹ کښی مونږ ته روښانه شوی وه، مونږ دا فیصله کړی ده.

کله چی د ټاکنو خپلواک کمیسون په۲۰۱۰ کال اګست کښی د مراکزو ټاکل اعلان کړل د ورته نیووکو سره مخامخ شول. نوماندو او د هغوی پلویانو ددی ادعاکوله چی د ۲۰۰۹ کال په پرتله مراکز کم شوی دی او سره ددی چی د پښتنو سیمو کښی چی امنیت هم نشته مرکزونه زیات شوی .

د ځینی هزاره مشرانو او سیاسی ګوندونو د بحث موضوع د رای د مراکزو کمیدل د ۱۷۷ څخه ۶۹ وه، ددی په پرتله د غزنی د اندړ ولسوالۍ چی زیات شمیر وګړی یی پښتانه دی د رای مراکز د ۲۶ څخه سږکال ۷۱ ته زیات شول. د یادوونی وړده چی د ټاکنو په ورځ د ټاکنو دخپلواک کمیسون د راپورومطابق یواځی دوه مرکزونه پدی ولسوایۍ کښی خلاص وو.

د این ډی آی د څار ډله راپور راکوی چی په ۲۰۰۹ کال کښی د ددی ولایت ۱۹ په سلو کښی مزکزونه دلته میشت وو، خو په ۲۰۱۰ کښی دغه فیصدی ۱۷ ته رسیدلی ده.

جغتو چی د مختلفو قومونو د جوړښت مرکز دی، د رای مراکز چی په ۲۰۰۹ کا ل کښی ۴ په سلو کښی وو په ۲۰۱۰ کال کښی٪ ۹ته ورسیدل . د یادوونی وړ ده یواځنۍ ولسوالۍ چی هیڅ یو مرکز هم پکښی د ورکړل شوی پلان مطابق خلاص نه شوو او د مختلفو قومونو د جوړښت ځای دی اودولایت په مرکز کښی موقیعت لری د قرغه باغ ولسوالی ده.

دا چی د مراکزو کمیدلو په ګڼ شمیر ولایاتو کښی د غزنی په شمول د امنیت په راوستو کی مرسته کړی د ایساف ځواکونه د ټاکنو دخپلواک کمیسون دغه کړنلاره تاییدوی. خو د ایساف د امنیتی چارو مسوولینو په مارچ ۲۰۱۰ کښی راپورخپور کړ چی د هزارجاتو سیمی د پښتنو سیمو په پرتله مصونی ګڼل کیدی دا ځکه چی په پښتنو سیمو کښی د طالبانو ملاتړل موجود دی.

د غزنی دټاکنو دچارو مسول د ایساف او افغان ځواکونو څخه ددوی د ندو په سرته رسولو کښی نا رضایتی ښودلی ده، د ټاکنو څخه یوه ورځ مخکښی ده محلی رسنیو ته ویلی وو چی د امنیت د نشتوالی د امله په څلور ولسوالیو کښی رای اچوونه ممکنه نده، او ده په امنیتی ځواکونو تور ولګاوو چی بی غیر ددی چی د امنیت مسله په پام کښی ونیسی دوی ددغه مراکزو دخلاص ساتو هڅه کوله.

# د رایو د شمیرلو ملی مرکز د درغلیو د کشف لپاره کار کوی

## کارکوونکی په ورځنی توګه ۱۴ ساعته د نتایجو د پروسی لپاره په هلو ځلو بوخت دی



د درغلیو د څیولو تیم په کابل کی د رایو د شمیرلو په ملی مرکز کی د معلوماتو د لیدلو په حال کی

پروسی څخه تیریږی:

۱.پذیرش: د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکی د سپارلو فورمه د صحت لپاره یو ځل ګوری تر څو په دی متمین شی چی لیږدول شوی اسناد لاسوهلی شوی نه وی او د پرله پسی نمبر او همدا شان د ترانسپورتی صندوقونو د پیژندلو او ددی ټولو معلوماتو څیړل له هغو معلوماتو سره چی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ولایتی مرکزونو له خوا په دیتابیس کی رسول شوی وو. د شک په صورت کی صندوقونه قرنتین او تر څیړنی لاندی نیول کیږی.

۲.د معلوماتو په کمپیوتر کی ثبت کولو د آماده ګی ګروپ – هر د درغلیو د شکایت سند تر څیړنی لاندی نیول کیږی تر څو په ډاګه شی چی کومه درغلی خو به نه وی تر سره شوی او فورمی په سمه توګه ډکی شوی وی. ټولی فورمی د درغلیو د شکایاتو په بستو کی ځای په ځای کیږی. په راتلونکی کی د اړتیا په صورت کی کیدای شی له دغو اسنادو څخه د څیړنو په موخه کار واخیستل شی. ټولی فورمی په کمپیوتری توګه ثبت او زیرمه کیږی که چیری اصلی فورمه ورکه هم شی کمپیوتری فورمه کارول کیدلای شی. د ټاکنو د شکایاتو د کمیسیون په وړاندیز د فورمو یوه اضافی کاپی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مشر په دفتر کی ساتل کیږی. سکن شوی فورمی په انترنیتی پاڼه کی هم د دی پروسی تر پایه کیښودل کیږی.

۳.د پایلو د فورمو ثبت: د پایلو فورمی په دیتابیس کی جمع کیږی چی دا دیتابیس په اوتوماتیک ډول د معلومات څرنګوالی هم ترسره کوی. د معلوماتو د ثبت مامور ته خبر ورکول کیږی که چیری کوم معلومات غلط ثبت شوی وی.

۴.د معلوماتو دوه ځلی ثبت: هغه د پایلو فورمی چی په مخکینیو دری مرحلو کی دوه ځلی ثبت شوی وی د دوه ځلی ثبت سیستم په نوم یادیږی. د څرنګوالی د څیړلو په موخه، په دیتابیس کی د معلوماتو د بیا ثبت پروسه د دوه ځلی ثبت شوی معلوماتو په نامه یادیږی.

۵. د فورمو څیړل او تصحیح: دیتابیس د وروستیو دوو پړاوونوثبت شوی معلومات له یو بل سره مقایسه کوی او هغه فورمی چی له یو بل سره سمون نه خوری هغه نشانی کوی. فورمی له سره څیړی او غلطی یوازی د سوپروایزر له خوا څوک چی له دوو ثبت شوو معلوماتو څخه به یوازی یو ثبت شوی معلومات ټاکی. که دواړه ثبت شوی معلومات غلط وی نو د معلوماتو د ثبت پروسه په دیتابیس کی له سره پیل کیږی.

۶.د څرنګوالی څیړنه: ټول شوی معلومات یو ځل بیا د پایلو د پاڼو سره څیړل کیږی او تصحیح پکښی کیږی.

۷.زیرمه/آرشیف: یومامور په خپل وار په دی برخه کی مسولیت لری تر څو وګوری چی ټولی فورمی د پروسی سره سمی تر سره شوی دی که نه.

که پروسه په سمه توګه ترسره شوی وی په دیتابیس کی را ټول شوی معلومات د منلو وړ بلل کیږی او فورمی په زیرمتون/آرشیف کی ساتل کیږی.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکی د اوږدو ساعتونو لپاره د رایو د شمیرلو په ملی مرکز کی د رایو د نتایجو په پروسه بوخت دی چی له ټول هیودا څخه دوی ته رارسیدلی دی. د اکتوبر په څلورمی نیټی د ټاکنو خپلواک کمیسیون د هیواد د ۳۴ ولایاتو څخه د ۲۵ ولایاتو جزیی نتایج خپاره کړی دی.

د رایو د پاڼو شمیرل د رایی ورکولو په مرکزونو کی د ټاکنو د پایلی سره سم پیل شوو او په ځینو مرکزونو کی د ټاکنو د پایلی نه یوه ورځ وروسته دا لړی پیل شوه. ( په داسی حالاتو کی، تر پایه پوری امنیتی ځواکونو د رایو صندوقونه تر څارنی لاندی نیولی وو). د رایو د مرکزونو کارکوونکو د نتایجو فورمی او د بیا کتنی فورمی د درغلیو د شواهدو په بوجیو کی ځای په ځای کړل. دا بوجی بیا د حوزوی کارمندانو لخوا راټولی او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ولایتی دفترونو ته ولیږدول شوی.

په ولایتی سطح، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکو د درغلیو د شواهدو د بوجیو د تعداد او د هغوی د پرله پسی نمبر، د رایو د اچولو د مرکز کوډ نمبر او د رایو د ستیشن د نمبر په هکله معلومات په دیتابیس کی ثبت کول، دا ولایتی دیتابیس د انترنیت له لاری د رایو د شمیرلو د ملی مرکز سره تړل شوی دی. د درغلیو د شواهدو بوجی د رایو د شمیرلو مرکز ته لیږدول کیږی او په پلاستیکی صندوقونو کی ځای پر ځای کیږی او ټول معلومات او پرله پسی نمبرونه د تسلیمی په فورمه کی رسول کیږی. که په لومړیو دوو مرحلو کی کومه بی نظمی تر ګوتو شوه ، د درغلیو د شواهدو اسناد د تصفیی څانګی ته لیږدول کیږی. که ستونزی حل شوی، دا اسناد بیرته په پروسه کی شاملیږی. که ستونزی لا هم موجودی وی، دا اسناد د څیړونکو د تیم لخوا څیړل کیږی. کله چی د څیړلو پروسه پای ته ورسیږی، تیم دا معلومات د مدیریت ډلی ته سپاری، او دا تیم بیا د څیړنو په هکله خپل نهایی وړاندیزونه د پریکړی لپاره د کمشنرانو بورد ته لیږی. که بی نظمی ګانی د څیړنو د تیم لخوا په ګوته شوی، د مدیریت ډله په ولایتی سطحه د رایو د بیا شمیرلو درخواست کوی. د مدیریت ډله همدارنګه ټول نتایج مخکی له دی چی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د کمشنرانو بورد ته ولیږی یوځل بیا بررسی کوی.

وضاحت لپاره درخواست وکړی د نوماندانو استازی، څارونکی او نوری ډلی کولای شی د ټاکنو د خپلواک کمیسیون څخه د نتایجو په هکله د

که د اعلان شوو نتایجو شمیر د رایو د مرکز د رایو له شمیر سره توپیر ولری. شکایات د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون او د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته د اعلان شویو نتایجو د اعتبار وړ شمیرلو لپار لیږدول کیږی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون تصدیق شوی نهایی پایلی وروسته له دی چی ټولی رایی وشمیرل شی او ټولی څیړنی تر سره شی اعلانوی. نهایی تصدیق شوی پایلی د وضاحت غوښتنو، څیړنو او شکایاتو سپارل د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون ته تابع دی. د ټاکنو د شکایاتو د کمیسیون د نهایی راپور په پام کی نیولو او د خپلو څیړنو په پام کی نیولو نه وروسته د ټاکنو خپلواک کمیسیون نهایی تصدیق شوی پایلی د ۳۵ ولایاتو د ناظرینو په شمول (۳۴ ولایات او ۱ کوچی) اعلانوی.

کله چی د درغلیو د څیړنو اسناد د رایو د شمیرلو مرکز ته راورسیږی، د لاندینی

**ملی دیموکراتیک انستیتیوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتیتونو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سمینارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه په لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وړاندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وړاندی کړی.**